# العصر

**مکی سورة دی ٣ آیتونه لری**

وَٱلۡعَصۡرِ ١

**قسم په زمانه، یا قسم( د مازیگر په لمانځه چې د ورځنیو فرض لمونځونو منځنی او افضل لمونځ دی) او یا قسم (د اسلام د پیغمبر د بعثت او ظهور په عصر چې تر ټولو غوره او بهتر عصر دی).**

إِنَّ ٱلۡإِنسَٰنَ لَفِي خُسۡرٍ ٢

**چې بې له شکه انسان له سخت زیان او تاوان سره مخامخ دی.**

إِلَّا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ وَعَمِلُواْ ٱلصَّٰلِحَٰتِ وَتَوَاصَوۡاْ بِٱلۡحَقِّ وَتَوَاصَوۡاْ
بِٱلصَّبۡرِ ٣

**بې له هغو کسانو چې ایمان یې راوړی او په نیکو چارو کې مصروف دی، او یو بل ته د حق( د الهی احکامو په رعایت او له ګناهونو او معاصیو ځخه ځان ساتلو او د مصیبتونو، او کړاوونو په مقابل کې) د صبر او ثبات توصیه کوی.**

**« تمت سورة العصر بفضل الله و رحمته»**

**=====================**